# شال او بولان

د کندهار پښتانه یوه قصه لري چي د شال نوم د احمدشاه بابا ابدالي په زمانه کي ایښود سوی دئ. مګر دا خبره تاریخي سند نه لري، بلکي شال له پخوا زرو کالو څخه د دغي اوسنۍ کوټي نوم و او د پښین وادي تر اسلام دمخه هم په تاریخ کي شهرت درلود او زما په خیال خو د بولان نوم هم ډېر پخوانی دي.

د اسلامي دورې د جغرافیانو دغه مځکه چي له مستنګه تر سیوڼ پرته ده، د "والشتان یا والشستان" په نامه یاده کړېده، (وګورئ د یعقوبي، کتاب البلدان، ۲۸۱ مخ او د البیروني، قانون مسعودي او حدودالعالم، ٦٤ مخ) ابو عبدالله محمد بن احمد مقدسي پخپل کتاب احسن التقاسیم ٤۹ مخ کي، د والشتان ښارونه ایشین (پښین)، اسبیدجه، مستنګ، شال، سکیره، سیوه (سبۍ) بولي او بیا په ۲۹۷ مخ کي همدغه نومونه مکرر راوړي. (دغه مورخ په ۲۷۵ کال کي خپل کتاب تالیف کړی دئ). نو داسي ځني معلومېږي چي پښین، مستنګ، شال، سیوۍ او اسفجر زرکاله پخوا هم په دغو نومو موجود وه، او جغرافیه والو پېژندله، دا عربي مورخ یو ګرزندوی سړی و او د هغه وخت اکثره اسلامي ملکونه ده لیدلي وه، نو ځکه د ده خبره سند ده.

هتورام پخپل کتاب تاریخ بلوچستان طبع لاهور ۱۹۰۷ ع ٦۲۲ مخ کي داسي لیکي :-

چي دغه علاقه احمدشاه دراني د بلوڅو د میر نصیر خان مور ته د پوړني (شال) په ډول خلعت ورکړې وه. مګر دا خبره غلطه ده، ولي چي زرکاله دمخه همدغه شال موجود و، او عین د احمدشاه ابدالي په زمانه کي همدغه ځای شال بلل کېدی، چي د کاسي قوم کلاوي دلته وې، په دغه کتاب کي د میر نصیر خان یو فرمان د ارباب یوسف خان او دولت خان او بادین خان کاسي ملکانو په نامه سته چي په ۱۱۵۲ هـ کال د محرمي پر ۱۱ مه لیکل سوی دئ. بل د احمدشاه ابدالي فرمان دئ چي تاریخ یې د ۱۱۵٤ هـ کال د صفر ۱۵؟ دئ، ٦۲٤ مخ، مګر دا دواړي سنې غلطي ښکاري، ځکه چي د نصیر خان تخت نشیني ۱۱٦٤ هـ او د احمدشاه جلوس ۱۱٦۰ هـ کال د شوال میاشت دي، او ممکنه نه ده چي لس، دوولس کاله تر پاچهۍ دمخه د دوی فرمانونه لیکل سوي وي، په دغو دواړو فرمانو کي دغه مځکه د شال په نامه یاده سوېده، نو ځکه زه وایم چي دا نوم په دغو وختو کي هم مشهور و، او نوی نه دئ او کندهاریان تر اوسه هم د کوټي مېوه والا شالکوټیان بولي. کوټ د پښتنو قدیمه کلمه او معنی یې (کلا) ده او شال کوټ یعني د شال کلا.

اما د بولان نوم هم قدیم ښکاري که څه هم د قدیمي جغرافیا په کتابو کي ما دا نوم نه دئ لیدلی مګر داسي ښکاري چي د سلطان محمود او مسعود تر زمانې دمخه ۵۰۰ هـ همدا نوم و، یعني تر اوس زرکاله مخکي هم بولان مشهور و. د غزنوي دربار لوی مورخ ابوالفضل محمد بیهقي لیکي چي د بست د ښار لوی قاضي ابو الحسن بولاني او بوبکر د ده زوی په علم او تقوی ډېر مشهور وه، او سلطان مسعود دغو بولانیانو ته په درنه سترګه کتل. وایي چي سلطان محمود د هندوستان بتان مات کړل او سره زر یې په کڅوړو کي راوړل، په هره کڅوړه کي زر زر مثقاله سره زر وه، یو وخت سلطان مسعود خبر سو چي د بست "د هلمند د غاړي" قاضي بولاني او د ده زوی بوبکر ډېر مفلسان دي او له چا څخه هیڅ نه اخلي نو سلطان وویل :-

"دغه د زرو کڅوړي چي د غنیمت حلال مال دي، یوه قاضي بولاني او بله د ده زوی ته ورکئ، مګر قاضي بولاني وویل :-

دا زر چي سلطان محمود له بتخانو څخه په توره ګټلي دي او راوړي یې دي، او ما ته نه ده معلومه چي هغه غزا دي پر سنت نبوي ﷺ برابره وي، که نه؟ نو دا زر څنګه واخلم؟

سلطان ورته وويل :-
که يې نه اخلې، خپلو شاګردانو او نورو بېوزلانو ته يې ورکه.
بولاني وويل :-
دا زر د بل چا دي او بل څوک به يې اخلي تر دې منځ زه ولي ځان په ګناه کړم، چي په قيامت به يې جواب وايم.
بيا نو سلطان هغه زر د بولاني قاضي و زوی بوبکر ته ورکړه خو هغه وويل:-
"زه هم د دې سړي زوی يم، له ده څخه مي علم زده کړی دئ. دا زر نه اخلم خپله يوه ګوله وچه ډوډۍ مي بس ده".
سلطان د بولانيانو له دې زهد او تقوا څخه ډېر خوښ سو او وې ويل :-
"خدای دي تل دا بولان له بدو سترګو وساتي"، (د تاريخ بيهقي ۶۲۳ مخ د تهران چاپ).
له دغو تاريخي سندو څخه ښکاري چي شال او بولان دواړه پخواني نومونه دي او دا ځايونه زرکاله دمخه هم په دغو نومو يادېده، او بولانيان د سلطان محمود د ژمي په پايتخت بست کي د شرع قاضيان وه او د دوی علم او تقوا مشهوره وه، چي معاصر مورخ بيهقي يې لوړه قصه له خپلي مشاهدې څخه ليکلې ده[1].

[1]) کندهار مجله، ۱۳۴۱ ش کال، لومړۍ ګڼه، ۲۵ مخ